# د خاورو لاندې ښار

## د عینک مسو کان ته څېرمه



لیکوال: داکتر معمار حشمت الله اتمر

پیخلیک: غبرګولی ۱۴۰۳ لیږدی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار



(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې بنار**

..........................

## لیکي پوهه:

**سرلیک:** **د خاورو لاندې بنار**
**لیکوال:** ډاکټر معمار(مهندس) حشمت الله ,, اتمر ،،
**ایډېټور:**
**د پخښتی ډیزان:** ډاکټر معمار(مهندس) حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:**
**چاپشمېر:** ۳۰
**چاپ نېټه:** میاشت - غبرګولی / کال ۱۴۰۳
**واتس اپ:** ۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸+
**برېښنالیک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ
ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

پخنی............................................................................ ۱
بسم الله الرحمن الرحیم ........................................................ ۲
لیکي پوهه:..................................................................... ۳
لړلیک ........................................................................... ٤
تراڼ (پیل، شروع، برید)......................................................... ۸
مننه په څو لنډو کرښو کې...................................................... ۱۱
د یادښتونو له پاره:.............................................................. ۱۲
عمومي مالومات (معلومات)..................................................... ۱۳
لوګر ولایت: ..................................................................... ۱۳
آرپوهنه: ......................................................................... ۱۳
"د لوګر پنځه زره کلن لرغونی ښار " میس عینک: .............................. ۱۷
د عینک مسو لرغوني سیمه: .................................................... ۲۵
تاریخ: ............................................................................ ۲٦
د کان پراخه کمپلیکس او د راهبانو معبد: ..................................... ۲۷
د ژغورنې کیندنې:................................................................ ۳۰
وروستي پرمختګونه: ............................................................. ۳۱
د هغه وخت صوفیانو عبادتګاه وې: .......................................... ۳۳
سیمانتیک بیا کتنه:............................................................... ۳۳
پیداښت:......................................................................... ۳٤

(c) ketabton.com: The Digital Library



..........................
ودانۍ: .......................................................... ۳٦
درجه بندي: ...................................................... ۳۷
د صوفیانو عبادتګاه وو رواج: ............................ ۳۸
پاچا غونډۍ (شاه تپه): ........................................ ۵۲
استوګن ځایونه: ................................................. ۵٦
د افغانانو میشت ځایونو پیژندل، جلا کول او ویشل: .......... ۵۷
د استوګن ځای تعریف: ......................................... ٦۳
رواني بدلونونه: ................................................ ٦۳
د اوسني استوګن ځای برخې: ................................. ٦٤
د استوګن ځایونو ځانګړي ډولونه: ........................... ٦۵
د عینک مسو سیمې استوګن ځایونه: ........................ ٦٦
رس خاوره: ....................................................... ٦۷
په ودانیزو چارو کې د رس خاورې کارونه: ................ ٦۸
د لویدیځو او ختیزوغونډیو استوګن ځایونو پرتله: ......... ٦۹
د لویدیزو غونډیو استوګن ځایونه: .......................... ۷۱
د خونو(کوټو) چتونه: ......................................... ۱۱۸
سمڅې: ........................................................ ۱۲٤
په نړۍ کې د خلکو مېشتېدو لاملونه: ..................... ۱۲۵
بودایي ستوپاوې: .............................................. ۱٤٦
سانچي ستره ستوپا: ........................................... ۱٤۹
د مندر او ستوپا ترمنځ توپیر: ............................. ۱٤۹
د موریان امپراتور اشوکا: .................................. ۱٤۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



...........................
د ستوپا سمبول: ........................................................ ۱۵۰
د ستوپا جوړل:........................................................... ۱۵۰
د ستوپا مانا (معنی) ........................................................ ۱۵۰
د ستوپا اصلي برخه:.......................................................... ۱۵۰
د ستوپا جوړ ښت:............................................................ ۱۵۱
عبادت په ستوپا وو کې: ...................................................... ۱۵۲
د ستوپا پيدايښت:............................................................ ۱۵۲
په نړۍ کې لومړی ستوپا: ...................................................... ۱۵۲
د ستوپا نوم:................................................................. ۱۵۳
د ستوپا کارونه:............................................................... ۱۵۳
تر ټولو لوی ستوپا (Jetavanaramaya):......................................... ۱۵۳
د ستوپا په اړه په زړه پورې حقايق:............................................ ۱۵٤
د بودا دعا:................................................................. ۱۵٤
د بوديزم ۸ سمبولونه يا اته غوره نښې: ........................................ ۱۵٤
د ستوپا ډولونه:.............................................................. ۱۵۵
د اسيا تر ټولو لوړ ستوپا:...................................................... ۱۵۵
د ستوپا اهميت: .............................................................. ۱۵٦
د ستوپا کېښودل: ............................................................ ۱۵٦
د ستوپا شکل:................................................................ ۱۵٦
د ستوپا بڼه: .................................................................. ۱۵۷
د ستوپا  پلان يا پاسنی ليد:................................................... ۱٦۸
د ستوپا مخامخ ليد (نما):..................................................... ۱۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



..........................
مجسمې ........................................................ ۲۰۶
د مجسمو جوړولو تاریخ:..................................................... ۲۰۶
د مجسمو جوړولو تاریخ په افغانستان کې:........................................ ۲۰۷
د لاټوس ګل پر سر ناسته کارګۍ (مجسمه): ........................................ ۲۳۶
پیسې (سکې)................................................................. ۲۴۱
د لومړۍ سکې جوړولو تاریخ: ................................................ ۲۴۱
ګاڼې (زېورات):................................................................ ۲۴۵
انساني شکلونه په بېلا بېلو ډولونو: ............................................... ۲۴۶
کیندل شوي (کندنکاري) آثار:................................................... ۲۵۱
کوشنۍ یا د سینګار له پاره مجسمې: ............................................ ۲۵۴
د ورځني (روزمره) ژوند وسایل: ................................................ ۲۶۵
خټو لوښي: ................................................................. ۲۶۸
د لوښو جوړولو مرحلې:........................................................ ۲۶۹
اوسپنیز(فلزي) لوښي:.......................................................... ۲۸۸
د کور سینګار وسایل:.......................................................... ۲۹۱
سرچینه: .................................................................... ۲۹۴
د چاپ شویو کتابونو لېست....................................................... ۲۹۵
د کار لاندې کتابونو لېست ....................................................... ۲۹۹
د امکان او وخت په صورت کې.................................................... ۳۰۰
د پختې خټې ................................................................ ۳۰۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

**.........................**

## ترانۍ (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِیمِ، اَلْحَمْدُ لِلّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلّا اللّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی.
عظمت، د ټولي نړۍ موجودیت، د ناځاپه څخه راوتل، حق ته د رسېدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل د نوي تحقیق په اړه په لاندې نوم (د خاورو لاندې ښار) چې پنځمې نه تر خلورمې پېړۍ پورې اړه او د عینک مسو کان ته څېرمه شتون لري، د خپلو کتابونو مینوالو او لوستونکو سره ګډ (شریکه) کړم.

زما د کتابونو مینه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، نه باید اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې ځانګې مینه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړې چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

.........................

**پاکه ربه!**
زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو.
زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښنه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپېڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**یادښتونه:**

**۱. د کتاب عنوان غوره کول**
تر ټولو مهم ټکی د یوه کتاب له پاره د عنوان ټاکل یا غوره کول دي چې د کتاب ټولې د ننه برخې پر هغه عنوان پورې اړه او یا څرخي (څرخېږي).

ښار هغه ځای دی چې د نفوسو لوړه کچه، سیاسي، اداري او تاریخي مرکزیت ولري، چېرې چې د خلکو اصلي فعالیت غیر کرنیز وي او ښاري همغږي لري چې د محلي حکومت له لارې اداره کېږی.

په نړۍ کې لومړی ښار په ۵۵۰۰ د میلاد نه د مخه په میسوپوتامیا کې تاسیس شو، په لومړیو ښارونو کې، نفوس لږ وو، ځکه چې زاړو ښارونو یوه دیوال درلود او څلور خواوو ته یې د نظامي دفاع له پاره، ترې تاو کړې وه.

د تاریخ پوهانو د وینا له مخې، له پیل راهیسې، انسانانو هڅه وکړه چې د ژوند له پخوانیو لارو لکه ځنګلونو، سمڅو (غارونو)، خیمو کې ژوند، کرنه او د کلیو ژوند څخه و باسي، د ځان له پاره ښه ژوند چمتو کړي او د دې هدف له پاره، ښارونه تاسیس شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

.........................

د عينک مسو کان ته څېرمه ښار کوم چې تر خاورو لاندې دی، لاندې ښاري ځانګړتياوې لري لکه:

استوګن ځايونه، راکړې ورکړې (تجارتي) مرکز، بودايي عبادت ځايونه، د هغه وخت صوفيانو عبادتګاه وې، کوشني مسو ويلو کولو کارخانې، لارښوونې (رهبری) مرکزيت چې پاچا تپې ( شاه تپې) په نوم يادېږی، تر اوسه په سيمې کې په ويجاړه توګه شتون او تصويرونه يې هم په دې کتاب کې د لا ډېرو مالوماتو(معلوماتو) له پاره خپاره او يا ځای پر ځای شوي دي.

ما هم د هر اړخيزو څېړونو، مطالعې د ښار اصولو په پام کې نيونې نه وروسته، د دې کتاب له پاره « د خاورو لاندې ښار» نوم غوره کړ، کوم چې په رښتيا هم تر خاورو لاندې دی، خدای وکړي چې لوستونکي ترې ګټه واخلي.

**۲.** د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هيله کيږي چې، خپلې غوښتنې او وړانديزونه د دې کتاب د بيا کتنې له پاره، زما سره ګډ (شريکه) کړی.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

په ډېر در نښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

..........................

## مننه په څو لنډو کرښو کې

د یادونې وړ ده چې ښاغلی الحاج مولوي صیب (صاحب) عبدالرؤف خدام هېواد یوه له تکړه، سترو او مشهورو دیني علماوو او د لوګر ولایت خوښۍ (خوشي) ولسوالۍ اوسېدونکو څخه دی.

هغه تل زیار باسي چې  هر کس سره د خپلې وسې او توان په اندازه په بېلا بېلو بڼو لارښوونې او مرستې وکړي.

د هغه یوې مهمې او تل پاتې مرستو څخه، کولای شم د دې کتاب په هڅونې اوملاتړ څخه په ډېر درنښت یادونه وکړم.

د خدای تعالی نه، ذکر شوي (یاد شوي) الحاج مولوي صیب ته روغ صحت، خوښي، اوږد ژوند (عمر) او اجرونه غواړم.

په درنښت

داکتر معمار(مهندس) حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

..........................

**د یادښتونو له پاره:**

۱- ..............................................................................

۲- ..............................................................................

۳- ..............................................................................

۴- ..............................................................................

۵- ..............................................................................

۶- ..............................................................................

۷- ..............................................................................

۸- ..............................................................................

۹- ..............................................................................

۱۰- ............................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عمومي مالومات (معلومات)

**لوګر ولایت:**

لوګر ولایت یوه د افغانستان ۳٤ ولایتونو له ډلې څخه دی، چې لوګر ویي د پښتو ژبې د دوو ویننو ترنګ دی:
(لوی) او (غر)، چې په ختیځ زون او د کابل ولایت په سویل ختیځې سیمې، کې پروت دی.

**آرپوهنه:**

د لوګر کلیمې په اړه دوې ډوله څېړنې تر سره شوې دي.

- لومړۍ ایتمولوژیکه او دوېیمه فولک ایتمولوژیکه څېړنه ده.
- ایتمولوژي په ژبپوهنې کې د یوې کلیمې یا ویي د ریښې پلټنې ته وایي.

او فولک ایتکولوژي بیا په ژبپوهنې کې د یوې کلیمې ولسي یا عامیانه ریښې پلټنې میتود ته وایي.
په لومړۍ څېړنه کې د لوګر ویی له دوو مورفیمونو (لو) او (ګر) څخه رغېدلې دي، چې (لو) د لوی، ستر په مانا او(ګر) د غر یا غره په مانا دی.
په روسي ژبه کې غره ته ګره (Гора) ویل کیږي او په ټولو سلاوي ژبو کې د (ګر، ګره، ګري) ریښه شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

..........................

دغه کلیمه په سانسکریټ کې د (ګیري) giri په اوستا کې gairi اورمړي کې د giri په جوله او بڼه کارېده، چې د پښتو ژبې کې د (غر) په ډول تر اوسه ژوندۍ پاتې شوې ده.
په اردو ژبې کې اوس هم د (ګهر) ویی شتون لري، چې کور ته ویل کیږي.
زما په آند دا (ګهر) د همدغه (ګر اوغر) زړه بڼه ده نو ځکه پخوانیو آریایانو له بېلا بېلو سېلاوونو او نورو طبیعي آفاتو څخه ژغورنې په موخه ډېر په غرونو کې میشت کېدل.
دا غرونه د دوی له پاره له بېدیا او اوارې څخه ښه په امن استوګن ځي وو.
نو ځکه په اردو ژبې کې کور ته (ګهر) ویل کیږي، چې هماغه د پخواني (غر) چې د استوګن ځي په مفهوم کارېده، اوس هم کارېږي.

د (ګر) کلیمې په اړه لوی استاد علامه عبدالحی حبیبی وایي چې:
په سانسکریټ کې (غر) ته (ګیري) ویل کیږي او په لرغوني فارس کې دغې کلیمې ته د توماسچک په وینا (ګر) ویل کېده.
اروپایي څېړونکو چې د بابلي کتیبو په اړه کومې څېړنې کړي، نو په هغو کې د (ګر) کلیمه دغره له پاره کارول شوې ده.

دا چې لوګر ته ولې لوی غر ویل شوی، علت یې دا دی چې په دې سیمې کې لوړ او دنګ، دنګ غرونه ډېر زیات دي، چې لړلی یې دپکتیا، پکتیکا او دېره جاتو غرونو ته رسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

.........................

پاتې شوه دا خبره، چې لوی غر څرنګه (ځنګه) په لوګر اوښتی، دا ژبني اومهالني ابدال یا اوښتنې دي، چې د وخت په تېرېدو سره ژبني ترنګونه بدلون مومي او کلیمې خپلې بڼې بدلوي.
په آریایي ژبو کې دا ډول بېلګې ډېرې دي، لکه په پښتو کې هر هغه کلیمه چې له دوو خپلواکو مورفیمونوڅخه ترښت موندلی وي، نو د لومړي مورفیم خپلواکه وروستۍ څپه غورځېږي، چې دې عملیې ته په تشریحي ژبپوهنه کې کمېدل (غورځېدل) یا Decreasing وايي.
د ساري په توګه مونږ وایو(مرسته) دا یوه مورفیم ده، کله چې ور څخه نوم جوړوو، لکه (مرستندوی) نو وروستۍ (ه) واو له څپه ترې لوېږي.
همدا ډول په پوهنه کې چې په (پوهنځي) کې د (پوهنه) وروستۍ (ه)غورځېږي.
په دې ډول، دې ته ورته نورې بېلګې.
په ځینو کتابونو کې لوګر ته لهوګر هم کارول شوی دی، خو دا کارونه ایتمولوجیک شا لید، نه لري.

د لوګر دریم نوم لوکرنا دی.
د یونان وتلي او نامتو جغرافیه لیکونکي بطلیموس د کابل خیرمه سیمې د ارګردا (ارغنده) لوکرنا (لوګر) او بګردا (وردګ) په نومونو یادې کړې دي.
له دغو سیمو څخه یوه یې لوکرنا یا اوسنی لوګر چې د پلازمېنې کابل سویل ختیځ ته څېرمه، پروت دی.
دوېیمه څېړنه لوګر د کلیمې په اړه فولک ایتمولوجیکه څېړنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

.........................

ځېنې خلک وايي چې لوګر د (لو ګر) یانې هغه کسان چې لو کوي په مانا ده.

دا پر ځای خبره ده، چې د دغې سیمې خلک خپل معیشت د کرهڼې له لارې سمبالوي او په دغې سیمې کې غنم هم ډېر کرل کېږي، خو دا تسمیه له دې خبرې سره، هیڅ اړخ یا تړاو نه لګوي.

تر کومه ځایه چې زما تجربه ده، نو په لوګر کې دغنمو د لو کولو په وخت کې د لو له پاره له ختیځو ولایتونو ښځه کسان راځي او لو کوي، چې په بدل کې یې غنم تر لاسه کوي. ان دا چې د دوی د ښه لو له کبله ځینې ختیځې (مشرقیوالې) کورنۍ په لوګر کې مېشت شوي او نورې بزګرۍ چارې پرمخ بیايي.

په خپله لوګریان لو او ترېشر(ترېشل) نه کوي، نو د پورتنیو دلایلو پر بنسټ دغه ایتمولوجي چې د خلکو په ذهنونو کې یې ځای نیولی نا سمه او ستره تېروتنه ده.

لوګر په خاک پاک (پاکې خاورې) هم مشهور دی.

د دې نوم پس منظر داسې دی، چې حضرت عثمان (رض) (۲۵-۳۵هجری) کال کې افغانستان ته را ننوت، نو پر هغه مهال د ده جنګي کومندان (قومندان) عبد الرحمان بن سمره د غزني له لارې لوګر ته لاړ.

هغه وخت په لوګر کې بودايي دین دود و او لوګریان د نوموړي دین لارویان وو.

عبد الرحمان بن سمره د دې سیمې ټول وګړي د اسلام پر سپېڅلي دین مشرف کړل او وروسته بیا د حضرت عثمان (رض) له خوا د یوه لیک په ترڅ، لوګر ته د پاکې خاورې یا (خاک پاک) ستاینې نوم ورکړل شو. [۱]

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

...........................




**د لوګر ولایت نخشه (نقشه)**

**"د لوګر پنځه زره کلن لرغونی ښار " میس عینک:**

لکه څنګه چې د برهمني او بودايي مذهبونو له تاريخي اسنادو څخه څرګندېږي، لرغون پوهانو د اوږدې مودې له پاره فکر کاوه چې د کابل کلتوري سيمه (له کاپيسا او بګرام څخه تر لوګر پورې غځېدلې د ويديک په پيل کې د ښاري تمدن يوه مرکز و او د اوستان تمدن د مسيح له پيدايښت څخه شاوخوا درې زره کاله مخکې د آسيا وچې په دې برخه کې و، خو داسې کوم سند شتون نه درلود چې ثابته کړيې د کابل او شاوخوا سيمو کې د "برونزو" په دوره کې ښاري ژوند شتون درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

..........................



د عینکو مسو کان ښار ته، غزېدلې لارې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

........................



د عینک مسو لرغونې غونډېو ته څېرمه اوايي (فضایی) انځور

ځکه چې د مرانجان له غونډۍ څخه تر لاسه شویو څو لرغونو سکې پرته، د دې فرضې د پیاوړتیا له پاره نور تاریخي شواهد نه شته.



د عینک مسو لرغونې غونډېو ته څېرمه اوايي (فضایی) انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

.........................

تر ۲۰۰۷ کال پورې د چین د (MCC) شرکت له خوا د عینک مسو ستر کان د استخراج او د دغې سیمې تاریخي اثارو ساتنې د لرغونپوهانو ډېره پاملرنه د عینک مسو لرغونې سیمې ته اړولې وه.



**د عینک مسو لرغوني غونډېو ته څېرمه اوايي (فضایی) انځور**

د عینک مسو په سیمه کې، د کوشان دورې د غونډیو په سر کې د خورا مهمو شخصیتونو او نازکو نقاشیو سره د بودا معبدونه شتون لري چې د لرغون پوهانو له خوا باید په زیر (دقت) سره و ساتل شي.

هغه مهال د نړۍ له هر ګوټ څخه ګڼ شمېر لرغون پوهانو د عینک مسو له تاریخي سیمې څخه، لیدنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

.........................



د عينک مسو لرغوني غونډېو ته څېرمه اوايي (فضايی) انځور



د عينک مسو لرغوني غونډېو اوايي (فضايي) انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

.........................




د عینک مسو لرغوني غونډېو اوایي (فضايي) انځور




د عینک مسو لرغوني غونډېو اوایي (فضايي) انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

.........................




**د عینک مسو لرغوني غونډېو اوایي (فضايي) انځور**



**د عینک مسو یوې لرغوني غونډۍ مخامخ انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

.........................



د عینک مسو یوې لرغونې غونډۍ څېړنیز انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

........................

**د عینک مسو لرغونې سیمه:**

د عینک مسو لرغونې سیمه د کابل سویل ختیځ ته په ۴۰ کیلومترۍ او په لوګر ولایت محمداغې ولسوالۍ کې، شتون لري.

په دې سیمې کې د افغانستان د مسو ترټولو لوی او په نړۍ کې د مسو دوهم کان (معدن) دی.

د دغو کانونو ټولیز زېرمې ۱۱,۳ ملیون ټنه مس، یوه محدوده اندازه سره زر او د بودا معبدونو یوه لرغونی پیچلي (کمپلیکس) دی چې د برونزو دورې پورې اړه، لري.

د عینک مس، ۴۰ هکتار (۱۰۰ أکر) پراخه ساحه لري چې په کې د بودا د صوفیانو عبادتګاه کمپلیکس، کورونه، له ٤۰۰ څخه ډېر(زیات) د بودا مجسمې، ستوپې او د بازار ساحې شتون لري.

په دې سیمې کې د برونزو د دورې څخه ترلاسه شوي اثار شامل دي، او ځینې ترلاسه شوي اثار د ۳۰۰۰ کلونو څخه هم ډېر تاریخ لري.

د عینک مسو د اوسېدونکو شتمني د ساحې په پراخه اندازه او په ښه توګه ساتل شوي احاطه کې ښه استازیتوب کوي. لرغون پوهانو یوازې د بودا د کچې لاندې د ٥,۰۰۰ کلن زوړ برونزو د دورې د پاتې شونو په موندلو پیل کړی، چېرې چې د مسو لرغونې ویلې کوونکې بټۍ هم شتون لري.

د ساحې لاندې د مسو موندلو له پاره د افغانستان لیوالتیا د دې ځای د ساتنې پرځای د ویجاړولو لامل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

........................

لرغون پوهانو د دې ځای انځورونه اخیستي، اثار يې ایستل شوي او کابل ملی موزیم ته لیږدول شوي دي .[۲]

**تاریخ:**

یاده سیمه د کابل ښار سویل ته په څلویښت کیلومترۍ او په لوګر ولایت کې د لومړي ځل له پاره په ۱۹۶۰ کال کې د فرانسوي جیولوجست ښاغلي البرټ دی لاپران له خوا وپېژندل شوه.

هغه وویل :

د مسو دغه بډایه کان په داسې سیمې (ځای) کې شتون لري چې د لرغونو اثارو پاتې شوني په کې شته کومې چې ډېری يې زموږ دورې د لومړۍ پېړۍ پورې اړه لري.

په ۱۹۷۷ کې، د فرانسې د ساینسي څېړنو ملي مرکز څخه د لرغون پېژندونکو او جیولوجستانو یوې ډلې وخت (فرصت) تر لاسه کړ چې یوه ځل بیا دغه سیمه وګوري او لومړی تحلیل تایید کړي.

د مسو کان کیندنه چې د ۱۹۷۰ لسیزې په وروستیو کې د یوه شوروي اتحاد (تېر وخت) شرکت له خوا پلان شوې وه، د ۱۹۷۹ او ۲۰۰۱ کلونو ترمنځ په سیمه کې د امنیتي وضعیت له امله وځنډول شوه.

په همدې موده کې لوټ تالان هم وشو، چې په ۲۰۰۸ کال کې له یوې چینایي کمپنۍ سره کانونو د استخراج د پروژې د قرارداد په موخه د سیمې په خوندي کولو سره پای ته ورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې بنار**

.........................

**د کان پراخه کمپلیکس او د راهبانو معبد:**

د عینک د مسو ساحه د "بابا ولي غونډۍ" په نوم د ډبرې غونډۍ په شاوخوا کې پېژندل شوې وه چې د مسو معدني زېرمو سره ورته وې کومې چې په اسانۍ سره د لاسرسي وړ وې.
ډېرې وختونه، د برونزو د دورې له پيل څخه، په سمه توګه (دقيقا) د لومړۍ پېړۍ څخه، د مسو فلز کان (معدن) کيندنې، توليد او بدلون روان و، دا کار تر اوومې پېړۍ پورې دوام وکړ او وروسته په بشپړه توګه ودرېد.
د لاسي صنايعو د دې پراخ فعاليت سره، لږترلږه د لومړۍ پېړۍ څخه وروسته، دا ممکنه ده چې د بودا معبدونه رامينځ ته کړي، چې ډېرى يې قلعه شوي او د کانونو په شاوخوا کې شتون (موقعيت) لري او همدارنګه د عبادت ځايونه، چې رول (نقش) يې لا تر اوسه نه دي ليدل شوي، د کان کيندنې سيمې په زړه کې تعريف شوي، اړونده ګڼل کيږي.
د استخراج وړ ساحه د دېوال په مرستې (واسطه، ذريعه) ساتل کيږي کومې چې د لرغوني دورې يوه غښتلې (قوي) پټن ځای دی.
په هېواد کې د لومړيو پېړيو هنري او مادي کلتور بډايه سمبول د افغانستان د لرغون پوهنې انستيتوت له خوا په ۲۰۰۹ کال کې کيندنې پيل شوې چې ډېر بډايه لرغوني اثار يې چمتو (برابر) کړي دي.

په دې ټولګه کې، تاسو د بودا، بوديساتو، او همدارنګه د هندي ديوى، درګا د مجسمې پاتې شونې په زرګونو د خټو مجسمې موندلې شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

..........................

دلته د ډبرو، فلزي مجسمو، د دیوال انځورونو لوی شمیر شتون لري چې د کوشان او کوشان - ساسانیانو هنر دودونو ځانګړي اړخونه څرګندوي.

په ځمکه کې د ساتنې غوره شرطونه (شرایط) د دې لامل شوي چې د لرګیو ډیری مجسمې، د جامو، ودانیو، او همدارنګه سپېدار د ونې په پوټکي کې څو نسخې کشف شي، چې ځینې یې د بودایي سوترا خورا مشهورې دي، "د الماس سوترا" .

په ډېره (زیاته) اندازه سکې هم ترلاسه شوې، چې ډیری یې په میس عینک کې د یوه ورکشاپ محصولات دي، چې ځینې نښې یې په سترګو کېږي.

همدار راز، د ساسانیانو د سپینو زرو نور ټوکرونه او د کوشان د سرو زرو سکې هم وموندل شوې، د دغې سیمې د لرغون پېژندنې چارې بنایي د څو نورو کلونو د پاره، دوام وکړي.

لکه څنګه چې د نوم څخه څرګندېږي، په میس عینک کې د مسو شتون د څه مودې له پاره پیژندل شوی، په داسې حال کې چې د سیمې لرغون پېژندنې شتمنۍ د روسیې او افغان ځمکه پوهانو له خوا په ۱۹۷۳-۱۹۷۴ کې پېژندل (کشف) شوي دي.

عینک میسو د پنځمې او اوومې پېړۍ تر منځ د خپل سوکالۍ په پورته (اوج) کې و، دلته د الچون هون د واکمنانو خینګیلا او مهاما سکې موندل شوي چې د ٤٥٠- ٥٠٠ عیسوي په شاوخوا، په دې سیمې کې د الچون شتون مني (تاییدوي).

د دې سیمې د ورو ورانېدلو( خرابېدلو، زوال) دوره په اتمې پېړۍ کې پیل شوه، او په پای کې ۲۰۰ کاله وروسته میشته شوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

.........................

لرغون پوهان په دې آند دي چې عينک مسو يوه مهم تاريخي ميراث دی.

دا د فرانسوي لرغونپوه فيليپ مارکيس له خوا "د وربښمو د لارې په اوږدو کې يوه له خورا مهمو ټکو څخه" بلل شوی دی.

داسې انګېرل کېږي چې په دره کې ۱۹ جلا لرغون پېژندنې ځايونه شتون لري چې په کې دوې کوشنۍ کلاوې، يوه لويه کلا، څلورکلا شوی شوي د صوفيانو عبادتګاه وې، څو بودايي سټوپاوو او د زرتشتيانو د اور وژنې معبد، او همدا راز (رنګه) د لرغونو مسو کارخانې، د ويلې کولو ورکشاپونه، يوه سر چينه يا مشرتابه ، او د کانونو استوګنځايونه شامل دي.

د بودايي دورې د بودايي د صوفيانو عبادتګاه وو او نورو جوړښتونو سربېره چې د مخه پېژندل شوي دي، مس عينک د پخوانيو تمدنونو پاتې شوني هم لري چې احتمال يې د دريمې پېړۍ مخکې له ميلاد پورې بېرته ځي.

تاريخ پوهان په ځانګړي ډول د دې سيمې په سپړلو سره د فلزاتو او کان کيندنې د لومړنې ساينس په اړه د لا زياتو زده کړې امکاناتو څخه خوښ دي، په دې کې سکې، شيشې او د دې جوړولو له پاره وسايل شامل دي، چې زرګونه کاله مخکې ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

........................

**د ژغورنې کيندنې:**

د ۲۰۱۰ کال د مې او ۲۰۱۱ د جولای تر منځ لرغونپوهانو نږدې ٤۰۰ توکي استخراج کړل چې د افغانستان ملي موزيم تر جګړې مخکې ساتل شوی وو.
دا سايټ شاوخوا ۴۰۰,۰۰۰ متر مربع (۴,۳۰۰,۰۰۰ قدم۲) ، څو جلا د صوفيانو عبادتګاه وو او سوداګريزه ساحه په کې شامله ده.
داسې ښکارې چې بودايانو چې نږدې دوې مليونه د مخه يې په سيمه کې ميشته کول پيل کړل د مسو د شتون له امله رامينځ ته شوي.

په دې وروستيو کې، د ډبرې يوه مجسمه يا سټيل، چې په ۲۰۱۰ کې وموندل شوه د شهزاده سدهارتا د انځور په توګه پيژندل شوې وه، مخکې له دې چې هغه د بوديزم بنسټ ايښودلی وي او د دې نظر ملاتړ له پاره اخيستل شوی و چې د سدهارتا د روښانتيا څخه مخکې ژوند ته وقف يوه لرغونی د صوفيانو عبادتګاه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وروستي پرمختګونه:

په کابل کې د امریکا سفارت د بودایانو د کنډوالو د ژغورلو له پاره د یوه میلیون ډالرو په ارزښت د امریکا پوځي مرسته کړې ده.
د ۲۰۱۳ کال د جون تر میاشتې پورې په ساحه کې د ۶۷ لرغونپوهانو یوه نړیواله ډله شتون لري، چې په کې فرانسوي، انګلیسي، افغانان او تاجکان شامل دي.
همدا شان نږدې ۵۵۰ محلي کارګران شتون لري، چې ټاکل شوې په دوبي کې ٦٥٠ ته لوړ شي. [۳]



**د عینک مسو لرغونو غونډېو انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

.........................



د عینک مسو لرغونو غونډېو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................

**د هغه وخت صوفیانو عبادتګاه وې:**

د خونګ (خانج) کلمې له ریښې څخه (د هغې ډولونه هم د "زاویه"، "دویره"، "رباط" سرلیکونو سره) (په استانبولي ترکي کې: تېک، "تکه / ملاتړ") د اوسېدو ځای، روزنې، د صوفیانو غونډو او فعالیت ځای دی.

درګاه او آستانه اکثره د صوفیانو عبادتګاه وو ته د راجع کولو له پاره کارول کېده چېرې چې زوړ سړی ژوند کاوه یا ښخ شوی و. په تیرو وختونو کې، غوښتونکي د د صوفیانو عبادتګاه وو شتون د آرام (اسوده) ځای په توګه کارولی دی.

**سیمانټیک بیا کتنه:**

د صوفیانو عبادتګاه کلمه په فارسي ژبې کې د خانه (کور) مانا (معنی) ده او له دوو کلمو یانې (یعنې) خانه او ګاه څخه جوړه شوې چې مجموعه یې خانق او د صوفیانو عبادتګاه ده.

ځینې په دې باور دي چې د صوفیانو عبادتګاه د "خان" له کلمې څخه اخیستل شوې چې مانا (معنی) یې میز دی، یا د "ښاغلي کور" د کلمې له کمښت څخه اخیستل شوی چې د هغه کور د پیر یا "قطب" د استوګنې یا ښخولو(دفن) کولو ځای ته اشاره کوي.

د صوفیانو عبادتګاه له فارسي ژبې څخه اخیستل شوې ده، او معنی یې "هغه ځای دی چیرې چې درویشان او ګروان اوسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................

**پيدايښت:**

که څه هم د صوفيانو عبادتګاه وو د جوړيدو دقيقه نيټه معلومه نه ده، خو د دوی ابتدايي بنسټ د زاهد او عرفاني ذکر غونډو څخه جوړ دی، چې په يوې غونډه کې پر عبادت او ذکر کې ښکيل وو. ښايي، و ويل شي چې د دې ډول غونډو کارونه يوه پېړۍ په بصره کې وو او د ابو طالب مکي له قوله په قطب القلوب کې يادونه شوې ده چې د حسن بصري (۲۵۸ قمري کال) په کور کې يادې غونډې جوړې شوې وې او د ايوب عليه السلام په څېر خلک هم وو.

په دغو غونډو کې شيخراني، ملک دينار او محمد واسع موجود وو. په دې وخت کې دې ځای او خلکو ته د صوفيانو عبادتګاه او صوفي کلمې ويل عام نه وو، له همدې حلقې څخه عبدالواحد ابن زيد بصرې ته نږدې د رباط عبادان (اوسنی ابادان) بنسټ کېښود، چې د سليمان دراني، بشر حفيظ او سری سقطي (۲۴۴ قمري) په څېر خلک په دې رباط کې اوسېدل او تګ راتګ يې کاوه.

د ابن حوقل په ليکنو کې د درېيم ځل له پاره د رباط عبادان اوسېدونکو ته صوفيان ويل شوي دي او د "دويرا" کلمه لومړی د عبدالرحمن سلمي (۴۱۲م) حلقې ته ويل شوې ده او وروسته بيا هغه ځای ته راغلې ده.

د ابو سعيد ابوالخير مطالعه او ژوند د صوفيانو عبادتګاه کلمه د بايزيد بسطامي (۲۶۰ قمري کال) او سهل امتحاني (۲۸۲ قمري کال) د ژوند او مقبرې د بيانولو له پاره کارول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





که څه هم د صوفیانو عبادتګاه وو لومړنۍ بڼه په خراسان کې وه، دوی د ایران، منځني ختیځ او شمالي هند په ډیرو ښارونو کې خپاره شوي دي.

د الخانات په دوره کې، د صوفیانو عبادتګاه وو جوړول نوره هم وده وکړه او په اذربایجان کې د شین بغازان او ربي رشیدي په څیر ودانۍ د دوی له جملې څخه دي.[۴]

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................

**ودانۍ:**

د شاه نعمت الله ولي د هدیرې ځای په مهان، کرمان کې موقعیت لري د ډېرو لومړیو د صوفیانو عبادتګاه وو جوړښت ساده و او د کور یا جومات په څیر جوړ شوی و، که څه هم د منځنۍ آسیا او هند د صوفیانو عبادتګاه د خښتو جوړولو، د پلستر کولو او ټیل کولو سره د خښتو ودانۍ درلودې چې ډېری وختونه د مناورونو سره جوړې شوې دي.

د اناتولیا په سیمه کې، په اوومه پیړۍ کې، د صوفیانو عبادتګاه پراخه شوه او معمولا د انګړونو او خونو(کوټو، حجرو) سربېره یوه لوی ګنبد، پخلنځی، کتابتون او په منځنۍ آسیا او چین کې هم شتون درلود.

د صوفیانو عبادتګاه وو جوړښت داسې دی چې یوه مربع یا مستطیل انګړ لکه د ښوونځیو په څیر اکثرا په لرګیو کې وي او د صوفیانو عبادتګاه د مرکزي انګړ په مینځ کې د اوبو حوض هم لري.

د معمارۍ ډیزاین له مخې، د صوفیانو عبادتګاه د یوې دروازې، دوې پورچونو او څلورو پورچونو سره جوړه شوې ده. خونې یا حجرې په یوې یا دوې پوړونو کې د ښوونځیو په څیر جوړېږي، د دې ترڅنګ د نوکرانو، مدیرانو او هم د ښځو له پاره خونې لري.

هره د صوفیانو عبادتګاه یوه لویه خونه (کوټه، حجره) درلوده چې د د صوفیانو عبادتګاه د مشر له پاره ځانګړې شوې وه، کوچنۍ خونې یا حجرې او کونجونه هم د هغې تر څنګ ډیزاین شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**درجه بندي:**

که څه هم د صوفیانو عبادتګاه وو د انساني جوړښت درجه بندي د طریقت په ډول او طریقې پورې اړه لري، مګر دا ټول یوه څه عمومي جوړښت څاري (تعقیبوي)، چې د طریقت په ډولونو پورې اړه لري، د صوفیانو عبادتګاه د اهرام په سر کې یوه قطب، پیر یا شیخ دی چې د عباداتو د پلي کولو او د شاګردانو د لارښوونې او زده کړې مسولیت لري او هغه څوک دی چې خپل ځای ناستی ټاکي، کومې ناستې چې د مرګ او د مرګ څخه مخکې وي.

په بل حکم کې خادم خاص دی چې له طالب سره د شیخ اړیکه لري او د شاګردانو او طالب له پاره د خوراک او استوګنې د برابرولو مسؤولیت لري، په ځینو طریقو کې خادم خاص ته نقیب، نایب، او وکیل وایي.

له خاص خادم نه وروسته د صوفیانو عبادتګاه، نوکر دی چې د خدمت، پخلي او پاکولو دنده په غاړه لري او بیا الته (هلته) اوسېدونکي په دوو ډلو ویشل شوي دي، هغه څوک چې چوپ (چپ، بند، خاموش) وي او هغه څوک چې خبرې کوي او بیا عادي شاګردان.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د صوفیانو عبادتګاه وو رواج:**

د صوفیانو عبادتګاه وو په پراخېدو او د بېلابېلو توپیرونو څانګو په جوړېدو سره، د رسمي مذهبي رسومونو ترسره کولو سربېره، ډېری نور دودونه او طریقې جوړې او تاسیس شوې دي.

که څه هم د هرې طریقې دودونه د دې طریقې سره ځانګړي دي، خو د صوفیانو په عبادتګاه کې عام رواجونه هم عام دي.

د هغو دودونو په منځ کې چې تقریبا عام وو، موږ کولی شو د تشراف رسم (د چادرۍ اغوستلو)، د مجازاتو او محکومیت دودونه (پیماچن - ګوربینا - د جامو سوځول)، د سماع دودونه او د سما ډول (ډرم ) غږول یادونه وکړو، دا دودونه لکه په څوکۍ کې ناست او سندرې ویل، په ځینو طریقو لکه نقشبندیه او قلندریه کې دا عبادات او رسمونه لږ دي، خو په نورو د صوفیانو عبادتګاه وو کې پلي کېږي.[۵]

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

..........................



د عینک مسو د صوفیانو عبادتگاه انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

.........................



د عینک مسو د صوفیانو عبادتگاه انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

.........................



د عينک مسو د صوفيانو عبادتګاه انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

..........................



د عینک د مسو عبادتگاه انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

.........................



د عینک مسو د صوفیانو عبادتگاه انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

.........................



د عینک مسو د صوفیانو عبادتگاه انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

**.........................**



**د عینک مسوغونډۍ کيندني انځور**

که چېري مونږ په پورتنيو انځورونو ودانيو کې په ځير سره کيندنې تر سره کړو او د صوفيانو عبادتګاه وو په هکله معلوماتو سره پرتله کړو، ډېرى ورتوالى به د نن ورځې د صوفيانو عبادتګاه وو سره ومومو، بيا کولاى شوو و وايوو چې د صوفيانو عبادتګاه وو ودانۍ او هغه کې رسوم نه يوازې په اوسنۍ زمانې کې کارول کېږي بلکه داسې ودانيو جوړونه په پخوا پېر کې هم شتون درلود چې شا ليد (تاريخ) يې تر ۲۵۰۰ کاله او تر هغه هم مخکې ته، رسيږي.

د صوفيانو عبادتګاه وو ودانۍ، په هغو کې رسوم او فعاليت د وخت په تېرېدو سره بدلون موندلى، څه شيان ترې لږ يا لرې شوى او نور نوې شيان په کې ګډ شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

.........................



د عينک مسو غونډېو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

..........................



د عینک مس ختیځو غونډېو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

.........................



د عینک مسو ختیځې غونډۍ انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

..........................



د عینک مسو ختیځې ودانیو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

..........................



د عینک مسو غونډیو انځور



د عینک مسو غونډیو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

**.........................**



**د عینک مسو ودانیو انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

**.........................**

**پاچا غونډۍ (شاه تپه):**
د ښار یوه له اوچتو اومهمو غونډیو څخه شمېرل کېږی.

دا غونډۍ په ښار کې د ارګ او د مشرتابه په توګه کارول شوې ده.
زما د لید په سترګو په دې غونډۍ کې کیندنې تر اوس مهاله نه دي
تر سره شوی او هر څه د خاورو لاندې پاتې دي.

کوم څه چې په سترګو ښکاری د ودانیو ډبرو کار (سنګ کاری) او
وربانديې پخسې دېوالونه دي.

**١. د ډبرو کار (سنګ کاري):**

د ډبرو کار کې راز، راز تیږې یا ډبرې کارېدلي دي چې ځینې یې
د غره کلکې تیږې دي چې د هغه وخت په وسایلو سره ماتې شوې
کومې چې دې سیمې ته نږدې شتون لري.
مګر نورې تیږې یا ډبرې د نږدې غونډیو او خوړونو نه راوړل
شوي کومې چې دېوالونو کې، په سترګو کېږي.
دا تیږې یا ډبرې ښویې (لشمې) په بېلا بیولو ډولونو ښکاري.
د ډبرو دېوالونو اوچت والی په اوس محال کې اټکل نه شي کېدای،
ځکه چې د پخسې دېوالونه پرې نړېدلي دي او د ۶۰ سانتیو نه تر
۸۰ سانتیو پورې ښکاري.
دا دېوالونه که مونږ د دې سیمې د نورو ودانیو سره پرتله کړو،
داسې ښکاري چې ډبرو کار د ځمکې لاندې هم شتون لري چې په
عامه توګه خلک ورته، غرقه وایي.
د غرقې سیور(بر) تر ځمکې باندې ډبرو کار نه ډېر دی او تر۲
مترو( دوو مترو) پورې رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

.........................

د ځمکې باندې ډبرو کار ۱۵۰ سانتي (یونیم متره) مگر په ځینو و دانیو کې تر ۱۲۰ سانتي ( یو متر او شل سانتی) پورې هم شتون لري.
د ډبرو یا تیږو( سنگ کاریو) کې د ختو مصالح تر سترگو کیږي کېدای شي دا مصالح حقیقي نه وي او د دېوالونو په شړېدو او غورځېدو کېدای شي د ډبر کار ته، ننوتې وي.
په ځینو ځایونو کې ډبرو کار په وچه توگه ښکاري چې دا کار د معمارۍ یوه ښه بېلگه ده، کومه چې د ختو مصاله کولای شی نم او لوندوالی خونو ته و لیږدوي.
د دې کار د پخلي له پاره کیندو، علمي څېړونو او عصری تکنالوژۍ کارونې ته، اړتیا لیدل کیږي.

**۲. پخسې دېوالونه:**

په دې غونډیو کې ټول دېوالونه د تیږو یا ډبرو کار نه وروسته د پخسې دي او خاوره یې ځایي ده.
دا دېوالونه د اوسنۍ پخسې دېوالونو په شان په څو پړاوونو یا کتارونو کې تر سره شوي دي، چې د لمړي کتار لوړوالی یې ۸۰ سانتي (اتیا سانتي) ده.
کېدای شي نورو کتارونو لوړوالی یې د پخسې په قانون سره کوشني شوي وي.
د پخسې دېوالونو سیور(بر) ډېری ۱۵۰سانتۍ (یونیم متره) دي.
د دېوالونو سیور نه داسې ښکاري چې دا دېوالونه تر ۳۰۰ سانتیو(درېیو مترو) هم اوچت ول.
د پاتې شویو آثارو نه داسې ښکاري چې ودانې د دې غونډۍ پر سر کلا ډوله او په کونجو نو کې یې برجونه هم جوړ شوي او د وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

..........................

په تېرېدو، د وخت حکومتونو او چارواکو د نه پاملرنې له امله، له منځه تللې دي.[۶]



**د پاچا غونډۍ درې اړخیزه انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

.........................



د پاچا غونډۍ يوې برخې انځور



د پاچا غونډۍ يوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................

**استوګن ځايونه:**

مخکې له دې چې د عينک مسو سيمې د استوګن ځايونو په هکله هر اړخيزه مالومات (معلومات) وړاندې کړم، ښه به دا وي چې په ټوله او لنډه توګه د افغانستان استوګن ځايونو، بېلا بېلو سيمو کې تم او يا رڼا واچوم.

د هېواد استوګنې معمارۍ پراختيا، بېلا بېلې تجربې، يوځای کېدل، تکامل، او د هغې پرمختګ اوږدې مودې او پېړيو ته رسېدلي.

په ډېرو مواردو کې، د استوګنې ودانۍ معمارۍ هنر ته په پام کې نيولو پرته جوړې شوې، خلکو د هغه وخت د مختلفو اقليمي شرايطو په پام کې نيولو سره د خپلو پلرونو او نيکونو ورته تجربې جوړې کړې.

د استوګنې ودانۍ د کورنيو د شمير او د هغې د ودې له مخې په پام کې نيول شوي.

د غير پلان شوي کورونو وده، پرته له معمارۍ، ځينې وختونه د دې لامل شوي چې د استوګنې کورونه، د آرامۍ نه سربېره؛ بلکي نه ښايسته وه، نه د هوا مناسب جريان او نه هم د لمريزې انرژۍ څخه کار اخيستل او استعمالول ډېر ستونزمن وو. د افغانستان چاپېريال، ټولنيز او اقليمي شرايط د دې هېواد د دوديز او مشهور ژوندانه ښه منعکسوي.

لويو ځمکوالو(فيوډالانو) او کوچيانو کورونه، کلا ګانې، پسو رمې، اوزو رمې او غوا ګانې درلودل.

د کوچنيو ښارونو يا ښارګوټو ډېری اوسېدونکي په مستقيم ډول د کليوالي ژوند سره تړاو درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

.........................

د دې هستوګنې کورونو اوسېدونکي هماغه کارګر او واړه خلک وو. هغه کسان چې د سوداګرۍ په موخه له کليوالو سيمو څخه ښارونو ته کډه شوي وو، د هغوی د ودانيو بڼه د هغه وخت د خلکو د کليو د استوګنې کورونو ته، ورته وه.

مګر په لويو ښارونو کې، نسبتا پرمختللې ودانۍ، د هغه وخت معمارانو له خوا ورکړل شوي پلان سره سم، د ښاري آثارو هنر رامينځته شوي او وده يې کړې ده.

د خلکو د استوګنې د ودې په اړه اساسي پوښتنه، د اصلي اوسېدونکو، د هېواد اصلي اوسېدونکي، د بنسټيزو اغيزو، د استوګنې په وخت کې موجود اصول، حجم، ځای، د مختلفو کورني او بهرني شرايطو په پام کې نيولو سره ده.

**د افغانانو ميشت ځايونو پېژندل، جلا کول او ويشل:**

له پخوانيو وختونو راهيسې په افغانستان کې د استوګنې مختلف ډولونه موجود وو. تقريباً د غرنيو سيمو پيل، غرونه، د شپنو کورونه، بزګران، د ځمکې خاوندان وو.

دا ودانۍ چې په لويو کلا ګانو کې موجودې وې، په ډېر زيار، کوښښ او ډېر وخت سره جوړې شوې دي کومې چې له واورو ډکې څوکې، د غرونو د څوکو په لاندنيو برخو کې، د غرونو په منځ کې، په غرونو کې، په ميدانونو کې، د خاورو په غونډيو کې، شنه باغونه، د انګورو باغونه وو او په هغو کې به دوی اوسېدل، کوم چې د غره منځ د اوسېدو په نوم يادېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

.........................

په ټيټو سيمو کې، د استوګنې کورونه د خپلو سټايلونو، ځانګړتياوو سره، په خلاص ځای کې او د طبيعت ليد، يا د لمر خوندي کولو په پام کې نيونې سره، جوړ شوي او ليدل کېږي.

دا په وياړ سره يادولای شو چې په ډبرينو، شګو، تودو(ګرمو) بې اوبو غونډيو او ميدانونو کې د سخت کار په پايلې کې،زمونږ نيکونو لويې کلا ګانې جوړې کړې دي.

يادو ودانيو ديوالونه او چتونه درلودل، د استوګنې ځايونه، د نن په شان کړکۍ نه درلودې خو ټولو کلا ګانو، استوګن ځايونو او باغونو دروازې درلودې، کله ناکله يې دروازو د پاسه او يا کونجونو کې پاټکونه (بلنداژونه، برجونه) درلودل کوم چې د هغې سيمې اقليمي شرايطو ودانيو جوړولو او د هغې په وده کې مهم رول لوبولی دی.

د اقليمي شرايطو او د هغې سيمې په پام کې نيولو سره، د افغانستان د استوګنې جوړښت په دوو برخو ويشل شوی دی:

۱- غرنۍ سيمې د استوګنې معماري.

۲- د اوارو سيمو د استوګنې معماري.

ويشل شوي؛ د هغې سيمې شرايطو ته، په پام سره، د غرونو او د استوګنې ځايونه، نږدې (۱۰۰۰) متره توپير لري.

د افغانستان غرنۍ سيمې چې د هندوکش لوېديځ د هندوکش مرکزي سيمې او د پارا پاميزاد غرونه په کې شامل دي د سمندر له سطحې څخه تر (۱۰۰۰) مترو پورې ځمکې، لوړې ارتفاع او بېلا بېل (جلا، جلا يا مختلف) اقليم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

.........................

هغه ټکي (نقطې) چې د سمندر له سطحې څخه (۳۵۰۰) متره لوړوالی لري، یا هغه لوړې سیمې چې ټول غرونه، لوړې ټکي (نقطې) او د هغې لوړوالی په کې ګډ ( شامل) وي.

ساړه اقلیم، د لمر لړ رڼا، ډیر اوږد نه، حتی په ځینو سیمو کې لږه هوا یا اکسیجن چې تنفس یا تنفسي سیسټم ته زیان رسوي او د انسان په روغتیا هم منفي اغیزه کوي.

د ځمکې او کرنې پوله د سمندر له سطحې څخه (۳۴۰۰) متره لوړه نه ده، حتی د هندوکش په کلا ګانو کې هم د واورو کرښه د سمندر له سطحې څخه (۴۰۰۰) متره لوړه ده، چې سویل ختیځ لوري ته نوره هم په سې لوړیږي.

د قفقاز د غرونو د لوېدیځو ټکو(نقطو) سره د غرنیو سیمو پرتله کولو له پاره، چې لوړوالی یې د سمندر له سطحې څخه شاوخوا (۲۰۰۰) تر (۲۵۰۰) مترو پورې رسیږي د واورې ترټولو نږدې کرښه ده؛ خو په افغانستان کې د واورو د کرښې لوړوالی د سمندر له سطحې (۲۷۰۰) تر (۳۰۰۰) متره پورې دی.

د سمندر له سطحې څخه تر (۱۲۰۰) تر (۱۴۰۰) مترو پورې د افغانستان د استوګنې معمارۍ ستایل د بشپړې سطحې د استوګنې له ساحو سره څه ناڅه توپیر، مګر له هوساینې (راحت والی) سره ډېر توپیر لري.

په ساده، نیمه وچو او غرنیو سیمو کې د استوګنې د جوړښت توپیر له (۱۲۰۰) تر (۱۴۰۰) او (۳۴۰۰) تر (۳۵۰۰) مترو پورې دی، د آرامۍ (آسوده، راحت) شتون (موقعیت) درلودو معمارۍ ستایل احساس کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

**.........................**

سیستماتیکې څېړنې ښیي چې په غرنیو سیمو کې د معمارۍ پراختیا د منځنۍ آسیا د هېوادونو د غرني معمارۍ سره ډېر توپیر نه لري، د سټایل او ودانیز لاره (طریقې) ګډ ټکي په کې لیدل کېدی شي.

شکل ته په درناوي، د اثرونو شکل ورکول، د افغانستان د معمارۍ بڼه د نورو اروپایي هېوادونو د غرنیو سیمو د معمارۍ په پرتله ډېره ترلې ده، د ودانیزو موادو، اقلیمي شرطونو (شرایطو)، د سیمې د هوساینې (راحت)، ټولنیزو، اقتصادي حالاتو په پام (نظر) کې نیولو سره کلتوري، مذهبي، مذهبي ژوند، د لرغونو زیرمو، د سختو ډبرو سره د غرونو جوړېدل، د سمندري لارې نه شتون، په ځانګړې توګه هېواد، وچ او صحرایي اقلیم لري.

د افغانستان د بېلابېلو سیمو استوګنې معمارۍ او د هغې د زون کولو(زونبندي) په اړه مفصلې او هراړخیزې څېړنې له (۱۹۷۳) څخه تر (۱۹۷۹) کلونو پورې د کابل پولیتخنیک انستیتوت (د کابل پولې تخنیک پوهنتون) کې ((د لوړو سیمو استوګنې معمارۍ د زون کولو لاره یا طریقه)) تر سرلیک لاندې پیل شوې چې د افغانانو عنعنوي استوګنې په ځانګړي ډول د افغانستان لوړو سیمو ته په پام سره، ترسره شوې ده.

په دې علمي څېړنه کې د افغانانو اوسېدو دودیز ټاټوبي تر څېړنې وروسته په لاندې ډولونو وېشل شوي دي.

- له کابل څخه تر هرات پورې د (۱۰۰۰) کیلومترو په اوږدو کې د (۱۸۰۰) مترو په اوږدو کې د کابل له ساحو څخه تر (۹۰۰) مترو پورې د هرات په سیمو کې، د خاصو اوسېدونکو د ډولونو، منځنیو غرنیو سیمو او د زابل ولایت (قلات) تر منځ پوله د سمندر له سطحې څخه (۱۲۰۰) متره لوړوالی لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

.........................

- د کابل - سالنګ پر لاره د کابل ولایت، بامیان پوله د لوړو غرنیو سیمو د اوسېدو په تړاو د وېش او زونونو ترمنځ وېشل شوې ده.

- په نورو مختلفو سیمو کې د استوګنې بله برخه شتون لري، چې تر تړلو، نیمه تړلو، په جزوي توګه پرانیستې، یا په جزوي توګه په حجمي بڼه کې جوړه شوې وي، د لارې (طریقې)، ځانګړو اړیکو په پام کې نیولو سره؛ کوم چې د غرونو په مینځ کې د استوګنې معمارۍ په توګه پیژندل کیږي.

په لاندې نخشه (نقشه) کې تاسو کولی شئ د مغلق ریلیف (جګوالی او ټیټوالی) او د افغاستان استوګنې بڼه(تیپ) کتلای شئ.

**I** - د اوارو (هموارو) او نیمه اوارو (هموارو) سیمو معماري.

**II** - د نیمه غرنیو سیمو معماري.

**III** - د غرنیو سیمو معماري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

.........................




**د ټرل شوی (مغلق) ریلیف (جګوالی او ټیټوالی) او د افغانستان استوګنې بڼه (تیپ) نخشه (نقشه)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د استوګن ځای تعریف:**

یوه استوګن ځای (کور، سرپناه) هغه ودانۍ ده چې دېوالونه، چتونه، دروازې، کړکۍ، کلتوري، ټولنيز يا مادي زيرمه کولو فعاليتونه، د خلکو انفرادي او ډله ايزو فعاليتونو خدمت کول، او د ورته عملياتو له پاره محافظت کاروي.

استوګن ځای (کور، سرپناه) ذهني کور کېدی شي په حکومت (دولت) پورې اړه ولري کله چې په کې اسانتيا وې وي.

انسانانو شاوخوا ۳۰،۰۰۰ کاله د مخه، د کورونو جوړول پيل کړي، مګر ډېری يې په لنډ مهاله کوټو يا سمڅو (سوريو، غارونو) کې ژوند کاوه.

انسانانو خواړو د لټون حرکت کولو د مخه د پناه اخيستو له پاره ساده جونګړې او خيمې هم جوړوې.

**رواني بدلونونه:**
څرنګه چې انسانانو د عادت ژوي دي، نو د يوه کس (چا) د استوګن ځای حالت له رواني پلوه پېژندل شوی چې په چلند، احساساتو او په ټول (عمومي) ډول پر رواني روغتيا اغېزه کوي.

ځينې خلک کېدی شي د استوګن ځای څخه بې خبره وي کله چې دوی د يوې مودې وروسته خپل استوګن ځای پرېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

..........................

نن ورځ ، ډېرى خلک په استوګن ځايونو(کورونو) کې ژوند کوي، استوګن ځاى د شتمنۍ (املاکو) په توګه ګوري، ځکه چې استوګن ځاى د کار، کورنۍ فعاليتونو او ژوند کولو ځاى دى، نو ځکه استوګن ځاى په ذهني او فزيکي لحاظ خورا لوړه مانا (معنى) لري.

**د اوسني استوګن ځاى برخې:**

۱. دالان

۲. د اوسېدو خونه (سالون)

۳. د خوب خونه

۴. حمام

۵. تشناب

۶. کاري خونه

۷. پخلنځاى

۸. خوراکخونه

۹. ګودام

۱۰. د مطالعې خونه او داسې نور

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

.........................

**د استوګن ځايونو ځانګړي ډولونه:**

